آصف بهاند

# ژوند ښونکې منډې
# (Stafet for Livet)

## منډې!

## LØB

## (۲۰۲۲)




د هرکال په سیالیو کې دا جمله د دې له پاره د شعار په ډول لیکل شوې وي چې خلک هم ځان وساتي او هم له هغو وګړو سره مرسته وکړي چې د چنګاښ په ناورغی اخته دي:

**«Kræften sover aldrig»**

**«چنګاښ ناروغي هېڅکله نه ویده کې?ږي!»**

د ډنمارک په هیدرسلیف نومي ښار کې، هر کال د سپتمبر میاشتې د پیل په لسو ورځو کې د « Stafetfor Livet» (ژوند ښونکي منډې یا د ژوند له پاره منډې) تر سرلیک لاندې د منډو سیالۍ جوړیږي چې سږکال (۲۰۲۲) د سپتمبر میاشتې لسمې او یولسمې نېټې کې ترسره شوې.

دا لوبې دوه کاله (۲۰۲۰ ــ ۲۰۲۱) د کورونا وبا د خپرېدو په وجه ترسره نه شوې او سږکال (۲۰۲۲) په ځانګړي شور او ځوږ سره ترسره شوې.

په ډنمارک کې ټول مثبت شیان په غځېدو او پراخېدو دي، له هغې ډلې دا منډې او د راتلونکي ژوند له پاره فکر او پلان، خو زما په پلرني وطن کې هر څه په منفي خوا روان دي. په دې وروستي یوه کال کې داسې بدلونونه رامنځته شول، چې خلک او وطن یې نور هم تیارو کې ډوب کړ، نړیوالو د تروریزم د ځپلو په نامه په افغانستان کې شل کلونه تېر کړل، او پرته له کوم پلان څخه یې ناڅاپه افغانستان او افغانان خوشې

کړل او دا وطن داسي خلکو ته په لاس ورغی چي په هېڅ قانون برابر نه دي او په هېڅ ډول تله کي تلل کېدای نه شي.

د دې ناخوالو ترڅنګ د طبعي افاتو د راتلو تر څنګ د لوړې سونامي څپې هم پرې راغللې او د نړۍ د غمجنو د کتار په سر کي ځای ورکړل شو. اوس لا بله بلا دا ورته درول شوې چي د پوهې او زدکړو له لارې نه هم دا خلک راګرځول کېږي، د ښوونزيو او د زدکړو د مرکزونو دروازې ورته تړل کېږي او...

زموږ ځو منتقدو قلموالو د طنز په ژبه د وطن او خلکو دې خوار حالت او دې ته چي دونياوال څه کوي او موږ په څه اخته يو، ليکني کړې دي چي دلته يې دوې وړې او

لنډې بېلګې وړاندې کوم:

«... کوم چآ د طنز په ژبه په يوه فيسبوکي ډله کي چي «مبارز ځوانان» نومېږي داسي په مقايسوي ډول ليکلي دي چي له خندا او ژړا نه به دې بډوډي او سترګې په درد شی، دا متن ما ته په مسنجر کي رالېږل شوی دی، ولولئ:

«د نورو خبرونه اور همارا:

ـ متحده عربي امارات مصنوعي سپوږمکۍ جوړوي.
افغانستان کي له شپږم پورته جوني زده کړو ته نه پرېښودل کيږي.

ـ پاکستان د غوري په نوم نوی ميزايل جوړ کړ.
کابل کي د اهل تشيع په يوه جومات کي چاودنه شوې.

ـ ملګري ملتونه: افغانستان له بشري ناورين سره مخ دی.
افغانستان: امريکا مو ماته کړې.

ـ ايران: امريکا دې ګواښونه نه کوي.
کابل: امريکا زموږ هوايي حريم نقض کړی چي له دوحې تړون ښکاره سرغړونه ده.

ـ قطر نوې ډرون طياره جوړه کړې.
ماليې وزارت له دولتي کارکوونکو څخه لمونځونه اوروي.

ـ فنلېډ د نړۍ خوشاله هېواد اعلان شو.
افغانستان: تېر يو کال کي د بېلابېلو لاملونو له کبله ۴۲ تنو ځان وژنه کړې.

ـ پاکستان پنجاب کي د مصنوعي باران ورولو تجربه کوي.
افغان ناروغان: پاکستاني ځواکونه د اوښتو اجازه نه راکوي.

ـ د چين ميټاورس کمپنۍ يو روبوټ خپل اجرايه ريس ټاکلی.
جلال اباد: د هلکانو په يوه ښوونځي کي چاودنه شوې.

ـ سعودي کي د هندي فلمونو ستر فيستيوال جوړيږي.
د ساز و سرود له وجې، ط. ننګرهار کي د واده پر محفل ډزې کړې.

ـ ناسا: چين هڅه کوي سپوږمۍ محاصره کړي.
افغانستان: د مکتبونو پرانيستو په طرحه کار روان دی، ډېر ژر به خلاص شي.»

یو بل دې ته ورته انتقادي مطلب ښاغلي ظاهر عمار ليکلی دی:

«چين د ځمکې په مدار کې یوه مصنوعي سپوږمۍ ځای پر ځای کوي چې د شپې په تیاره کې خپل ښارونه او سړکونه پرې روښانه کړي. د دې مصنوعي سپوږمۍ رڼا به تر اصلي سپوږمۍ اته چنده زياته وي او چین به د ډېر وخت له پاره د برق په انرژۍ د خپلو ښارونو او سړکونو د رڼا کولو له ميليارد ډالري مصرفونو بېغمه شي.

متحده عرب امارات بيا په ځمکه کې په پنځه ميلیارده ډالرو یوه مصنوعي سپوږمۍ جوړوي چې د نړۍ سيلانيان ورته رامات کړي او هر کال ميلياردونه ډالره ګټه ترې ترلاسه کړي.

خو د نوادرو په وطن کې بیا ټول بحث پر دې دی چې ږیره باید څومره اوږده وي؟ لوڅ سر لمونځ کيږي که نه؟ پتلون اغوستل روا دي که ناروا؟ نجونې دې ښوونځي ته ولاړې شي که نه؟ د ښځو اصلي حجاب چادري ده که نقاب؟

موږ ته بویه د بحثونو محور او مرکز مو دا وای چې ولې په نړۍ واله سیاسي، اقتصادي او اجتماعي انزوا کې پراته یو؟ نړۍ مو ولې په رسميت نه پيژني؟ ولې د سیاسي نظام تعریف شوی چوکاټ او اساسي قانون نه لرو؟ ولې مو ميليونونه هېوادوال نورو هېوادونو ته مهاجر شول او میلیونونه نور له هېواده د وتلو په فکر کې دي؟ ولې ميليونونه ځوانان نهیلي او وزګار دي؟ ولې د راتلونکو نسلونو په اړه د مسئولیت پذیرۍ احساس نه کوو؟ او...»

د افغانستان د غمیزې کیسې ډېرې دي چې په هېڅ ډول د نورو هېوادونو له حالاتو سره د پرتلې وړ نه دي، خبره لرې رانه کړه شوه چې په ډنمارک د منډو د سياليو کیسه وه.

لکه څنګه چې د تېرو کلونو په رپوټونو کې ما ویلي وو چې د منډو دا سیالۍ د ډنمارک د خلکو د فرهنګ د یوې غوره بېلګې په توګه د دې لپاره هرکال ترسره کېږي چې، په سرطاني ناروغیو باندې له اخته کسانو یا په سرطان ناروغۍ باندې د اخته کېدونوکو ناروغانو د مرض د درملنې یا مخنیوی له پاره پیسي راټولوي د ډنمارک له سرطان سره د مبارزې فونډ ته يې لېږدوي او په راتلونکې کې د نورو خلکو د نه اخته کېدو په موخه رنګارنګ تبليغات په کې کېږي.



په پاسني عکس کې د ډنمارک د هیډرسلیف ښار هغه سیمه لیدل کېږي چې هر کال د منډو سیالی په کې ترسره کېږي.

د منډو د دې سیالیو لپاره ما لومړنی مقاله د ۲۰۱۴ ام کال په سپتمبر کې ولیکله، د هغې لیکنې پیل مې داسې کړی و:

«له کوم کلي نه چې راغلی یم او په کوم کلي کې چې ژوند کوم، تقریباً یو ډول هوا لري، خو د خلکو په ژوند او مزاج کې یې د ځمکې او آسمان په شان واټن دی. د پلرني کلي هوا او د اوسني کلي هوا سره ورته ده. نرمه او ژوند ښونکې، خو خلک یې توپیر سره لري. زما د پلرني کلي اوسیدونکي داسې تند مزاجه دي چې لکه د چا خبره نر مچ هم په پزه نه پرېږدي، خو په ډنمارک کې د هیډرسلیف اوسیدونکي لکه چې ټول د مهاتماګاندي بچیان وي. ټول نرم خویه، خولې له خندا ډکې او ټول د عدم تشدد فلسفي داسې عملي پیروان دي چې ته وا هره ورځ به د عدم تشدد درس ګاندي ورته په غوږونو کې پو کړی وي. زما د پلرني کلي خلک هره ورځ جګړې ته تیار ولاړ وي او د دې کلي خلک نه جګړه پېژني او نه هم تاو تریخوالی.»

د منډو دغه سیالي هرکال د یوې لویې میلې په بڼه برابرېږي. د دې سیالیو په باب عمومي مالومات په چاپي او انلاین رسنیو کې خپرېږي. د سږکال (۲۰۲۲) معلومات په لاندې ډول دی:

ـ دغه سیالی د ډنمارک د هیډرسلیف په دمپارکن نومي پارک کې تر سره شوې،

ـ د منډو دغه سیالي د سپتمبرد لسمي نیټې د ورځې په دولس بجو پیل اوڅلیریشت ساعته روانه وه،

ـ په منډو کې څلوراویا (۷۴) لوبډلو ګډون کړی وو،

ـ د منډو وهونکو ټولیز شمیر۴۱۶۳ تنه وو،

ـ په سږنیو سیالیو کې یوسل و اته تنو هغو خلکو ګډون کړی وو چې په سرطان اخته وو،

ـ د سیالیو د تر سره کیدو په سیمه کې د بیلابیلو ټیمونو د منډو وهونکو د دمه کولو، خوراک څښاک او خوب له پاره په لسګونو رنګارنګ خیمې درول شوې وې،

ـ په سیالیو کې ټول لاسته راغلی عاید د سرطان پرضد د مبارزې ځانګړي فونډ ته ولېږدول شوې.

په ډېنمارک کې د منډو په دې سیالۍ کې، په هغو لارو کې چې د سیالۍ ګډون کونکي منډې وهي، د لارو په اوږدو کې سپین کاغذي پاکټونه ایښودل کیږي، د پاکټونو په منځ کې میده شګه او د شګو په منځ کې یوه ډیوه (شمع) ایښی وي، د لوبو د لومړۍ ورځې په ماښام ډیوې لګول کېږي او تر سهار پورې بلې وي، د دې سپینو پاکټونو پر ډېو باندې، د پاکټونو د ایښودونکو له خوا بیلابیل مسیژونه، شعارونه، شخصي هیلې او ځینې نومونه لیکل شوي وي. دا د ډېنمارک په هیدرسلیف ښار کې د ۲۰۲۲ ام کال د منډو د سیلۍ د ډیوو دوې بېلګې دي:



د ماښام په رارسېدو سره د ډیوو یا شمونو بلوني یوه بېلګه



د هغې لارې په اوږدو کې چې ځغاسته پرې ترسره کېږي، د بلو کړای شوو ډیوو یوه بله بېلګه

د سیالیو په سیمه کې په لسګونه وړې او غټې خیمې درول شوې وې او هر ټیم ځان ته جلا ـ جلا شعارونه لیکلي او راځړولي وو چې ټول د سرطان په باب مالومات او له سرطاني نا روغیو سره د مبارزې د څرنګوالي په باب وو.




سرطان ضد خواړه

دې سياليو، منډو او دې خلکو ته په ليدو سره هرکال دا چورت راالوېږي چې دا خلک څه کوي، موږ په څه اخته يو؟ د ۲۰۱۶ ام کال سياليو ته مې چې کومه مقاله ليکلې وه، هلته ما داسې چورت وهلی و:

«دا خلک او دا ټولنه ځومره د خپلو ستونزو د حل په باب مخکې له مخکې فکر کوي او د ستونزو د مخنيوي له پاره يې لارې چارې لټوي او بيا مې د خپل وطن په زرګونو رنګارنګ نا خوالو په را يادولو سره، په خپل خيال کې ځان په يوه لويه ځلور لاره کې ودراوه، له دريدو سره سم مې او دا توري او دا جملات د ذهن په بيديا کې ښکته پورته تلل را تلل:

ـ دلته سيالي د ژوند له پاره ده، زما په وطن کې سيالي د مرګ له پاره ده،

ـ دلته سيالي د ژوند د ژغورلو له پاره ده، خو زما په وطن کې سيالي د ژوند د بربادولو له پاره ده،

ـ دلته سيالي يو بل سره د مرستې او محبت په خاطر تر سره کيږي، خو زما په وطن کې سيالي د تاو تريخوالي او وراني په خاطر تر سره کيږي،

او...»

اوس هم دا خلک د ژوند لپاره منډې وهي او هڅه کوي او زمو په دې جګړه ده چې تر شپېږم ټولګي د لوړو صنفونو نجونې ښوونځی ته ولاړې شي که نه؟

**لکه د تل په څېر سږکال (۲۰۲۲ ام) هم د ډنمارک کې په جوړو شوو سياليو کې هيڅ څوک بايلونکي نه دي، بلکې ټول ګډون کونکي ګټونکي دي. په دې لوبو کې ټولې منډې او هلې ځلې د انساني احساس له مخې، له مرګ نه د يو انسان د خلاصون له پاره دي. دلته اصلي ګټونکی هغه انساني احساس دی چې د انسان د ژوند د ژغورلو له پاره تلاش کوي، دلته اصلي ګټونکی هغه انسان دی چې د يو بل نا ليدلي انسان د ژغورولو له پاره پل اوچتوی او زغلي.**